**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# له کفارو سره ګډ نظامي تمرینونه او عملیات روا نه دي؛ ځکه کفارو ته دا زمینه برابروي چې زموږ د پوځ له رازونو خبر شي او په لیکو کې خپل لاسپوځي ځای پرځای کړي

د ۲۰۲۰م کال د جنورۍ په ۴مه د مرکزي او جنوبي اسیا لپاره د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت استازي پر خپل ټوېټر ولیکل: «د امریکا ولسمشر د پاکستان لپاره د ګډو لومړیتوبونو او د امریکا د ملي امنیت د ګټو د ودې پر اساس، د نظامي همکاریو د پیاوړتیا په موخه د نړیوالې نظامي روزنې او زده کړې (IMET) د بیا پیل لاربښوونه وکړه.» د امریکا په تعلیمي ادارو کې زموږ د پوځ د افسرانو روزنه دوی ته دا زمینه برابروي، چې زموږ له ټولو نظامي رازونو خبر شي او د پوځ په رهبرۍ کې خپل لاسپوځي پیدا او ځای پرځای کړي. دغو ښکېلاکګرو نظامي انسټېټیوټونو له تېرو څو لسیزو راهیسې د پاکستان امریکایي پلوه نظامي رهبري په دې قانع کړې، چې له امریکا سره دغه وژونکي زهري اتحاد ته د پاکستان د ستراټېژیکو ستونزو د هر اړخیزې حللارې په سترګه وګوري. دا ډول امریکایي پلوه رهبري زموږ سرتیري د امریکایي پروژو د پلي کولو په موخه قرباني کوي؛ په داسې حال کې چې په فلسطین، اشغال شوي کشمیر، میانمار، عراق او سوریه کې پر مسلمانانو د روانو ظلمونو د مرستې لپاره له خپلو اډو څخه د راوتلو اجازه نه لري. جنرال پرویز مشرف، جنرال کیاني، جنرال راحل او اوس جنرال باجوه ټول د دغو استعماري نظامي پروګرامونو تولیدات دي. واقیعت دا دی چې دا ډول نظامي پروګرامونه په اصل کې د امریکا استخباراتي کړنې دي، چې زموږ د پوځي ځواکونو له نظامي وړتیا، روزني او فکر څخه خبر شي.

اسلام له محاربو کفارو سره د ډیپلوماتیکو اړیکو په شمول هر ډول اړیکې ناروا بللې دي. له دوی سره باید یوازې د ټوپک په خوله خبرې وشي او هر ډول تړون، سټراتیژیکې خبرې اترې، ګډ تمرینات او روزنیز پروګرامونه ناروا بلل شوي دي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾**

[سورة النسا: ۱۳۹]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې د مومنانو پر ځای له کفارو سره د دوستۍ اړیکې ټینګوي؛ ایا دا خلک هغوی ته د عزت لاس ته راوړلو لپاره ورځي؟ په داسې حال کې چې هر ډول عزت د الله سبحانه وتعالی له لوري دی.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«لا تستضيئوا بنار المشركين»**

(احمد، نسايي)

***ژباړه:*** *د مشرکانو له اور سره رڼنايي مه لټوئ!*

دلته اور د جګړې په معنا دی او موخه يې دا ده، چې له محارب کافر سره هر ډول اړيکې ناروا دي؛ الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا﴾**

[نسا:۱۴۱]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی هېڅکله کافران پر مومنانو نه دي برلاسي کړي.*

له امریکا سره د تېرو اوو لسیزو ملګرتیا، ګډو نظامي تمریناتو، او نظامي روزنیزو پروګرامونو موږ ته له سپکاوي پرته بل څه نه دي ډالۍ کړي. امریکا یوازې د مسلمانانو ښکاره دښمن نه دی، بلکې زموږ د نورو دښمنو سټراټیژیک دوست هم دی او هغوی زموږ پر وړاندې پیاوړي کوي. څنګه باور وکړو چې زموږ دښمن دې زموږ د پیاوړتیا په موخه دا ډول مرسته وکړي؟ نور باید له دا ډول محاربو کفارو سره هر ډول اړیکې پرې شي او د خپل تېر برم او عزت د بیا لاسته راوړلو په موخه باید د نبوت پر تګلاره د خلافت د تاسیس لپاره کار وشي. خلافت به پاکستان، مرکزي اسیا او منځنی ختیځ د یو واحد او پیاوړي دولت په توګه سره یوځای کړي. امریکا به د مسلمانانو له خاورې څخه وشړي او داسې درس به ورکړي چې بیا به هېڅکله د اسلامي خاورو د اشغال جرات ونه کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِي يَنصُرُكُم مِّن بَعْدِهِ ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾**

[عمران:١٦٠]

***ژباړه:*** *که چېرې الله سبحانه وتعالی درسره مرسته وکړي، هېڅ قوت به درباندې برلاسی نه شي! که لاس تر ثخه واخلي، نو له هغه سبحانه وتعالی وروسته به څوک ستاسې مرسته وکړي؟ یوازې مومنان دې پر الله سبحانه وتعالی توکل وکړي.*

**حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق د جمادي الاول لومړۍ**

**۲۰۲۰م کال، یکشنبه د جنورۍ ۵مه**

**گڼه:۳۵/۱۴۴۱**